**اعلامیه**

**۲۱/ سپتمبر/ ۲۰۱۳**

لس ورځې د سولې لپاره حرکت، په 2012 کال کې د سولې او ترقۍ لپاره د همکارۍ مؤسسې (CPD) په نوښت له یو شمېر مدني ټولنو سره په همکارۍ کې په دې موخه را منځته شو، چې لږ تر لږه د سولې د نړیوالې ورځې د نمانځنې په پلمه له دولت، وسله والو مخالفینو او نړیوالې ټولنې سره ولسي غوښتنې، اندیښنې او وړاندیزونه شریک کړي، سږکال هم د خوښۍ ځای دی، چې د سولې او ترقۍ لپاره د همکارۍ مؤسسه د یاد حرکت د استمرار هوډ لري او دغه ویاړمنه ورځ په افغانستان کې یوځل بیا نمانځي.

موږ (لس ورځې د سولې لپاره حرکت) په دې باور یو، چې په افغانستان کې سوله هغه مهال شونې ده، چې د جګړې ټولې ښکېلې خواوې په پوره صداقت او ریښتونولۍ په دغې لار کې کوټلي ګامونه اوچت کړي او د سولې د ټینګښت لپاره یواځې اسلامي، ملي او نړیوال منل شوي ارزښتونه په پام کې و نیسي.

له بلې خوا د سولې په بهیر کې ښکیل نړیوال لوری هم، باید نور د افغان ولس په سر سودا ونه کړي بلکې د افغانستان د هوساینې تر څنګ د نړۍ امن ته هم ژمن پاتې شي، له بلې خوا د نړیوالې ټولنې مرموز او دوه مخی سیاست هم ددې لامل شوی دی، چې د سولې بهیر ټکنی کړی، چې ښه بېلګه یې په روان کال کې، په قطر کې د طالبانو د دفتر د پرانیستلو ډرامه وه، چې په لوی لاس یې د سولې هڅې تر ډېره بربېده زیانمنې او په دغه بهیر یې خلک تر پخوا ډېر شکمن کړل.

اوسنی حاکمه اداره باید د تېرو دولتونو له تجربو څخه کار واخلي او د سولې د ټېګښت په لار کې د افراط او تفریط پر ځای د اعتدال لاره خپله کړي، د سولې د ټینګښت بهیر کې باید داسې خلک وګماري. چې له ولسي باور څخه برخمن وي. ددې ترڅنګ دولت باید دې ته جدې پاملرنه وکړي، چې د سولې بهیر یواځې جګړې له خنډ سره نه دی مخ کړی بلکې د ناقانونه وسله والو ډلو شتون، د مخدره توکو کښت او قاچاق، بې کچې اداري فساد، د قانون کمزوري، په واکمنې ادارې د خلکو بې باوري، د ادارې په لوړو پوستونو کې د داسې خلکو شتون کوم، چې په تېرو کورنیو جګړو کې ښکیل وو او ... دا هغه څه دې، چې په هیواد کې د جګړې له غځېدا سره مرسته کوي او په مستقیم او یا نا مستقیم ډول د سولې هڅې له خنډ او ځنډ سره مخ کوي.

د واکمنې ادارې تر څنګ د افغانستان علماء باید د سولې په ټینګښت کې خپله اسلامي او ملي دنده په هغه ډول، چې ښایي ترسره کړي او کنه خدای مکړه هم به دولس او هم به د الهی محاسبې وړ وګرځي، علماء باید په دې پوه شې، چې ددوی ستر رسالت یواځې د جمعې په خطبو او د جوماتونو په امامت کې نه شي خلاصه کیدای.

څکه نو موږ (لس ورځې د سولې لپاره حرکت) خپلې غوښتنې د افغانستان د اسلامي جمهوریت له مشرتابه پلاوي، وسله والو مخالفینو، سیاسي اپوزیسیون او نړېوالې ټولنې څخه په لاندې ډول مطرح کوو:

1- د افغانستان دولت باید د سولې د بهیر په هر پړاو کې عدالت له پام څخه ونه غورځوي او د سولې په شورا کې داسې خلک په دنده وګماري، چې ولس ته د باور وړ او د بشري حقونو تر پښولاندې کوونکي نه وي.

2- د 1392 لمریز کال د کلنی بودیجې 43٪ امنیتي چارو ته ځانګړې شوې، که چېرې په هیواد کې امنیت خوندي وي نو ښکاره خبره ده، چې د امنیتي بودیجې ډېره برخه به په نورو اړینو سکتورونو کې وکارول شي، څکه نو په کار ده، چې دولت خپلې هڅې لا زیاتې کړي ترڅو سوله ټینګه شي.

3- د 1392 لمریز کال په کلنی بودیجه کې د سولې دعالي شورا د بودیجې په اړه هېڅ ډول مالومات نه شته، څکه نو دولت باید د سولې دعالي شورا بودیجه او نورې کړنې تر هغه بریده، چې د قانون غوښتنه ده له ولسه پټې و نه ساتي.

4- دولت باید دسولې د ټینګښت په موخه په راتلونکو ټاکنو کې د جنګي جنایت کارانو د کاندیدی مخنیوی وکړي او هغو خلکو ته دې د نوماندی اجازه نه ورکوي، چې په ولسي وژنو تورن دي.

5- دولت باید د بشري حقونو دکمیسیون د شخړو د ترسیم (ترسیم منازعه) راپور د خپرېدو ننګه وکړي، کوم چې د جنګي جنایتکارانو څېرې بربنډوي او د بشري حقونو کمیسیون ته دې دنده وسپاري تر څو یاد راپور خپور کړي.

6- سره له دې چې د هیواد اساسي قانون معلوماتو ته د لاسرسي حق په رسمیت پېژندلی دی، خو لا هم معلوماتو ته د لاسرسي قانون نه دی توشیح شوی، مسوول چارواکي باید دغې ستونزې ته جدي ته پاملرنه وکړي.

7- دولت او وسله وال مخالفین باید د هېواد او ولس ګټې تر بل هر څه لوړې او محترمې وګڼي او د سولې د ټینګښت لپاره دې یواځې او یواځې همدغه ارزښتونه په پام کې ونیسي.

8- دولت باید داسې سولییزه چاپیریال رامنځته کړي، چې هر افغان پکښې خپلو بنسټیزو حقونو ته بشپړ لاسرسی ولري.

9- په واکمنې اداره کې د پخوانیو جګړه مارو ډلو د لوړ پوړو غړو شتون ددې لامل شوی، چې ولس د قانون په پلي کولو بې باوره شي، په تېرو دولسو کلونو کې آن ددې هڅه نه ده شوې، چې د پخوانیو ناخوالو د عاملینو څېرې سره له دې چې ولس ته بربنډې دي په رسمي بڼه بربنډې او بلآخره محکمې ته و درولې شي.

10- د سولې د ټېنګښت په پروسه کې باید واکمنه اداره، د ځوانانو (خوېندو او ورونو) رول ته په درنه سترګه وګوري او دغه ځواک څخه سمه ګټه پورته کړي.

11- نړېواله ټولنه په ځانګړې ډول ګاونډي هیوادونه باید خپل دوه مخي سیاستونه په افغانستان کې پای ته ورسوي او په ریښتینې بڼه د افغانستان د سولې له بهیر سره مرسته وکړي، څکه باثباته او سوکاله افغانستان نه یواځې د افغانانو بلکې د سیمې او ټولې نړۍ په ګټه دی.

**د لا زیاتو مالوماتو لپاره زموږ سره اړیکه کې شئ:**

برېښنالیک: cpd.afg@gmail.com

ټلیفون: 0093799074493 / 0093796048680 (یوازې د رسنیزو چارو لپاره)

فیسبوک: www.facebook.com/cpd.afg

د تغیر کاروان ګروپ: https://www.facebook.com/groups/CaravanOfChange/

ویبلاګ: www.cpdo.blog.af

ټویټر: https://twitter.com/Cpdafg